سيدعبدالله ولي زى

# پ  تو ن  يوال مرکز پرانيستل شو

د پښتو نړيوال کنفرانس د پريکړې پر بنسټ چې د پښتنو د ټولو فرهنګي حوزو د چارو د ښه تنظيم او همغږۍ او د اغيزمنو اړيکو د ټينګولو او ساتلو لپاره دې پښتو نړيوال مرکز جوړ شي، نو د ۱۳۸۸ کال دمرغومې دمياشتې په ۲۵مه د ۲۰۱۰ کال د جنوري په ۱۵مه د جمعې په ورځ د سهار په نهه بجو په کابل ښار کې د پښتو نړيوال مرکز پرانيستل شو. په دغه غونډه کې د افغانستان د اوو حوزو استازو، د ميرمنو د بهيرونو غړو، ځانګپوهانو، رسنيو او زده کوونکو ګډون کړى وو.



په هغه خبرپاڼه کې چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې له خوا خپره شوې وه د دې غونډې موخې په لاندې توګه په ګوته شوې دي:

۱. د پښتو نړيوال مرکز بنسټ اېښودنه
۲. د دغو اوو حوزو د کلتوري او ادبي ټولنو تر يوه چت لاندې راوستل
۳. د لا ښه نظم لپاره د لارو په نښه کول
۴. د همغږۍ د پياوړي کولو لپاره ميکانېزم جوړول




غونډه د قرآن پاک په تلاوت سره چې قاري صاحب عبدالله کامه وال تلاوت کړ پيل شوه. د قرآن پاک د تلاوت وروسته ملي سرود وغږول شو او ټولو ګډونوالو د ملي سرود د درناوي لپاره په ځايونو ودرېدل.



د ملي سرود د غږولو وروسته درووند استاد محمد آصف صمیم صاحب د غونډې پرانیستونکې وینا واوروله، استاد په خپله وینا د افغان کلتوري ټولنو د جرګې په چارو رڼا واچوله او هغه یې یو ګټور بنسټ وبللو او همدغه شان د پښتو نړیوال مرکز پرانیسته یې د پښتو ژبې لپاره نیک زیری وګڼلو.




د استاد د وینا وروسته ډاکټر صاحب ابراهیم شینواري د پښتنو په وړاندې پرتې ستونزې، د افغان کلتوري ټولنو د جرګې تجربه، د پښتو نړیوال مرکز اړتیا، موخې، حوزې، د کار ډول، د اړیکو وسیلې، او د نننۍ غونډې موخې او د ګروپي کارونو کاردود د یوه **Presentation** له لارې ګډونوالو ته وړاندې کړ



د غونډې په دې برخه کې خبر شو چې د پښتو ژبې تکړه شاعر او لیکوال عبدالله غمخور له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي، د پښتو نړیوال مرکز د پرانیستونې غونډې ګډونوالو د ده مړینه یوه ضایعه وګڼله او د ده کورنۍ، ټولو افغانانو، کلتوري او فرهنګي کړیو ته یې ډاډ ګیرنه ورکړله او د لوی څښتن تعالی دربار ته یې د دعاوو لپې اوچتې کړې.

ډاکټر صاحب دوران فیضان د پښتو نړیوال مرکز د ویبپاڼې په اړه مالومات ورکړل او د هغې د کارولو لارې چارې یې برخوالو ته ښکاره کړې. د نوموړي په دغه **Presentation** کې دغه حوزو ته لارښوونه وشوه تر څو هغوی خپل مالومات د دغې ویبپاڼې له لارې چې هرې حوزې ته پکې کړکۍ جوړه شوې ده وړاندې کړي. د لا ښې لارښونې لپاره یې یوه بیلګه وړاندې کړه.



د میرمنو د ادبي بهیرونو په استازیتوب آغلې توبا ندا ساپۍ خبرې وکړې، نوموړې د میرمنو د ادبي بهیرونو په شالید رڼا واچوله او د بهیر ځانګې یې په ګوته کړې او له ولایتو څخه د راغلو میلمنو یې وغوښتل تر څو په هغو سیمو کې چې میرمن بهیر نشته دوی دې له میرمن ادبي بهیر سره مرسته وکړي چې په هغه سیمه کې هم دغه بهیر پرانیستل شي.




د نوموړې د وینا وروسته د چای لپاره وقفه وه چې په دغه وقفه کې ګډونوال چې مخکې د اوو حوزو له خوا ټاکل شوي وؤ په اوو کاري ګروپونو وویشل شول او د وقفې وروسته یې په کار پیل وکړ. د ګروپي کار وروسته د غرمنۍ او لمانځه لپاره وقفه وه چې د وقفې وروسته یو ځل بیا کاري ګروپونو په خپلو ګروپونو کې خپل کارونه بشپړ کړل او د ګروپي کارونو په پایله کار وشو، پایلې د **Presentations** له خوا وړاندې شوې چې هرې حوزې د ولایت په کچه او د حوزې په کچه دوه دوه کسانو پښتو نړیوال مرکز ته وروپیژندل او یو تخنیکي کس یې په ویبپاڼې کې د اړوندې کړکۍ د چلولو لپاره معرفي کړ د هرې حوزې په استازیتوب لاندو کسانو خپل راپورونه وړاندې کړل.

د لوی ننګرهار په استازیتوب نجیب الله نایل

د میرمن ادبي بهیر په استازیتوب رڼا محمدي

د شمال زون یا د بلخ او کندز زون په استازیتوب ذبیح الله احساس

د لوی کندهار په استازیتوب هارون حکیمي

د مرکزي حوزې یا کابل په استازیتوب منیر احمد احمدي



د هرات حوزې په استازيتوب ډاکټر حميد الله نيازي او
د لويي پکتيا په استازيتوب نوراجان بهير خپل راپورونه وړاندې کړل.
د کاري ګروپونو د پايلو د وړاندې کولو په ترڅ کې ډاکټر صاحب خوشال روهي د پښتو نړيوال کنفرانس سره د مرستې کوونکو څخه يې مننه وکړه او هغه تکړه ځوان (اجمل ګلاب) ته يې ستاينلک ورکړ چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې لپاره يې کور په کرايه کړی دی.



لکه چې ويل شوي وو په غونډه کې به تفريحي پروګرامونه هم شته، خو د کاري ګروپونو د کار د ځنډ او د وخت د کموالي له کبله د غونډې د ډېرو ګډونوالو په غوښتنه تفريحي پروګرامونه ترسره نه شول.
د هيرولو دې نه وي چې د دغې غونډې ويډيويي ښاغلي فروتن او ولي زي کوله او نژدې ماښام د بادغيس څخه د راغلي مولوي محمد اسماعيل د دعائيه په ويلو سره پای ته ورسېده.
يادونه:
پښتو نړيوال مرکز د نړۍ پر مخ د ټولو پښتنو د فرهنګي کړنو د همغږۍ او اړيکو يو مرکز دی چې سکرتريت يې په کابل او ځانګې يې په ټولو هغو سيمو کې شته چې هلته پښتانه اوسېږي او کلتوري او فرهنګي فعاليتونه کوي. د نړۍ د ټولو پښتنو د کلتوري هڅو منظمول او همغږي کول او د دوامداره، ګټورو او متقابلو اړيکو جوړول، تعقيبول او ساتل يې لېد لوری دی. او چارې به يې د ډله ييز او منظم کار پر بنسټ، ستونزو ته د وړانديز شوو لارو پلي کول او د فرهنګي فعاليتونو ښه تنظيم او انسجام وي. د دغه مرکز چارې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې له خوا ترسره کېږي.

په درنښت